مصطفی پسرلی ۲۰۱۸/۱۲/۱۳

# له نفرت ډک انسانان

هر خوا د میني قاتلان دي خدایه له نفرت ډک ډېر انسانان دي خدایه
د میني بوی یې په فطرت کې نشته نور د ایمان یې په صورت کې نشته

دا پردي پال مو رهبران دي خدایه له نفرت ډک ډېر انسانان دي خدایه
ځلور لسیزې شوې، لمبو وخوړم د پردي جنګ، پردي وسلو وخوړم

خومره بې حسه مشران دي خدایه له نفرت ډک ډېر انسانان دي خدایه
د غلامۍ ځنځیر یې ځان نه تاؤ کړ سنګر د جنګ یې زما ارمان نه تاؤ کړ

هر خوا چې ګورم جاهلان دي خدایه له نفرت ډک ډېر انسانان دي خدایه
په تور تمونو کې خوشاله وي دوی ځکه همیش زبون بدحاله وي دوی

ښکاري انسان خو حیوانان دي خدایه له نفرت ډک ډېر انسانان دي خدایه
د عاطفې دیوال په جنګ رنګوي ښکلی تصویر مې په سور رنګ رنګوي



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

## زمـا د غـوښـې قصابان دي خدايه        له نفرت ډک ډېر انسانان دي خدايه

مصطفی پسرلی - ۲۰۱۸/۱۲/۰۸

یادونه:
که چیری ګران لوستونکی و غواړی چی د دی شاعر نوری لیکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی د «آرشیف» فهرست ته، لار ښودنه تر لاسه کړی!

له نفرت ډک انسانان
Mostafa_p_la_nefrat_dak_ensaanaan.pdf